www.nanafghan.com

# د تصوف څلورم مقام صبر :

صبر په اسلام کې عموماً او په ځانګړي توګه په اسلامي تصوف کې لوی مقام لري ځکه چې په قرآنکريم کې څو څو واري له صبر څخه يادونه شوي ده او په هغه يې امر کړی دی او ښه يې بللی لکه چې فرمايي : (( وصبرو ما صبرک الا با الله )) ژباړه : صبر وکړه او ستا صبر له خدای (ج) څخه پرته نور په هيڅ څيز نه دی .

يا دا چې فرمايي :(( انما يوفي الصابرين اجرهم بغير حساب )) يعنې په رښتيا سره صبر کوونکو ته بې له دې چې محاسبه ورسره وشي پوره اجر او کامله ثواب ورکول کيږي .

ابي نصر سراج طوسي وايي چې ما په بصره کې له ابن سالم څخه دصبر په باب پوښتنه وکړه او هغه په ځواب کې راته وويل چې صبر په درې ډولو دی : متصبرين ، صابرين او صبار .

**متصبرين :** هغه خلک دي چې کله د نفس په غوښتلو غالبيږي او د خدای پاک د رضا د پاره دنفس په خلاف کار کوي او کله داسې پيښيږي چې د نفس غوښتنې پرې زورورې وي او نه شي کولی چې دهغو په مقابل کې مقاومت او صبر وکړي .

**صابرين :** هغه کسان دي چې دخدای (ج) په لارکې خاص د خدای (ج) د پاره د ژوند تکليفونو ته اوږه لاندې کوي بې له جزعې فزعې ( شور و فرياد ) ، تندارو ، ژړا او واويلا څخه د خدای پاک امر ته غاړه ږدي او کوم شکايت نه کوي .

ذوالنون مصري کيسه کوي چې :(( يوه ورځ د يوه رنځور پوښتنې ته ولاړم ، کله چې زه ورننوتم له ما سره يې په خبرو پيل وکړ او په دې منځ کې يې په ځګيروی وکړ نو ما ورته وويل : [ هغه څوک چې وهلو ته يې طاقت ونکړي په محبت کې يې رښتياني نه دی .] دې رنځور راته وويل : (( هغه څوک چې له وهلو ټکولو څخه يې لذت او خوند وانه خلي په محبت او دوستی کې يې صادق او ريښتنی نه دی . ))

**صبار :** هغه کسان دي چې دخدای (ج) په لاره کې دخدای (ج) دپاره دخدای پاک په مرسته او کومک صبر کوي او که چيرته دژوند ټول غمونه ، دردونه ، رنځونه او مصيبتونه ورته متوجه شي ، دوي پرې پروا نه کوي ، رنګ يې نه بدليږي او نه يې په اخلاقو روحياتو ښکاره او پټو خواصو کې کوم بدلون راځي .

د صبر دا مرحله شيلي په دې لاندينيو اشعارو کې داسې ښکاره کړې ده :

*عبرات خططن في الخط سطرا　　قد قرا ها من ليس يحسن يقرا*

*ان صوت المحب من الم الشوق و خوف الفراق يورث ضرا*
*صابر الصبر فا ستغاث به الصبر فصاح المحب باالصبر صبرا*

ژباړه: اوښکو دې په مخ باندې داسې خط ولیکه دهغو چې لیک او لوست یې ښه نه وه زده هغو هم ولوستی شو.

دعاشق غږ او آواز د شوق له درده او د جدایی او بیلتون له ویرې دومره تُند او تیز دی چې د اذیت او ضرر سبب کیږي.

عاشق له خپل صبر سره مسابقه وکړه نو صبر دده له لاسه استغاثه (شکایت او فریاد) وکړ، عاشق په صبر باندې غږ وکړ چې ای صبره !صبر وکړه !

دپورتنیو څرګندونو په نظر کې نیولو سره ارواښاد **ګل پاچا ((الفت))** د صبر مانا داسې کړی ده:

( ۱ )

ځینې وایي صبر غم کې نه ژړل دي د اولاد په مړینه ډیره نه شکول دي
که صحیح معنی یې غواړی زما جانه په سختیو کې د خپل ځان نه بایلل دي

( ۲ )

صابر نه دی که زحمت نه څوک ویریږي یا هر شی ته لکه وورکی هوسیږي
بې صبري ده چې بې ځایه خوشحالي کړي یاڅوک زیات له ضرورته خوشحالیږي (۱)

همدارنګه د روښاني دورې دیوان لرونکی ستر شاعر **دولت لوانی** دصبر په هکله داسې ویلي دي:

په قسمت خپل صبر شکر کړه راضي شه پر کریم رحیم ستا نه شته بل غمخوار هیڅ (۲)

---

(۱) د استاد الفت کلیات ، ۲۶۹ مخ
(۲) د دولت لوانې دیوان ، پښتو ټولنه ، ۴۳ مخ

همدارنګه دولت لوانی په یوه بل ځای کې د ناصبوره انسان په هکله داسې وایي:

*نا صبور بې قناعته خوار ګدای وي*
*په دنیا که زیات توانګر وي له قارونه* (۱)

خوشحال خان خټک هم دقرآنکريم او نبوي حديثو په رڼا کې د صبر په هکله داسې ويلي دي :

*صبر ډېر ښه دی عزيزه — په بلا ترهره ځيزه*
*صبر ډېر ښه دی يارانو — مل دی خدای (ج) د صابرانو*
*هر سړی چې صبر کاندي — ظفر مومي وروسته وړاندي*
*خدای (ج) صابر دی صبر غواړی — ځوک چې صبر کا پرې وياړي*
*د فرخ مفتاح دی صبر — زړه پټهی دی صبر ابر*
*چې باران په پټهي وسي — ترې ګلونه زرغونه سي*
*چې نم نه ورسي نر ځمکې — ځمکه نوني هم کاروکې*
*مرد په صبر مشکل وړه شي — چې صابر وي دا هاله شي*
*چې پرې سل بلا را درومي — مرد به غم په کې نه مومي* ( ۲ )

رحمان بابا د دنيايي چارو څخه د ځينو خلکو دزړونو د نا صبرۍ په هکله داسې ويلي دي :

*په هيڅ حال کې دې قرار و صبر نه شي — ليونی کړې ډېر حرص ډېرې هوا*
*تمام عمر تراشنا تر عزيز پورې — يوې ګيډې مختورن کړې هم رسوا* ( ۳ )

---

( ۱ ) دولت لواڼي ديوان ، پښتو ټولنه ، ٤ مخ
( ۲ ) خوشحال کليات ، دانش خپرندويه ټولنه ، ٦٠٨ مخ
( ۳ ) رحمان بابا ديوان ، ٢٤ مخ

اوبيا په خپل تصوفي ذوق له خپل محبوب څخه صبر کول ليرې او نا شونې بولي :

صبر ستا په عشق کې داخبره څه اوزه ځوک — نه شته ددې چارې توان يو موي قدر ځما
ستا له محبته جاروا ته ځما دروغ دي — ولې خاورې نه شي په دا لار بشر ځما ( ۱ )

بایزید روښان هم په خیرالبیان کې د صبر په هکله داسې ویلي دي :
(( نبي ویلي دي صلی الله علیه والسلا م ، فرض مې کړی دی پر ادمیان ، چې اندوه په صبر وجارباسي چې یې خو وشي زیان..... *یاایهاالذین امنوا استعینوا باالصبروالصلوة* ( ۲ )

ای موءمنانو دخپل ژوند په کاروبار کې له صبر او لمانځه څخه مرسته وغواړئ

**یادونه**: ځینې خلک ادعا کوي چې د صبر حکم په ژوندانه کې ډېره غټه ناوړه اغیزه لري اوهغه دا چې مظلومو خلکو ته تسل ورکوي چې د ظالم په وړاندې ونه دریږي او دهغه د ظلم لا س ور لنډ نه کړي دوي تل دټولنیزو ناخوالو په وړاندې بې تفاوته وي او وایي : (( زمونږ دې صبر وي ، خدای (ج) دې پخپله ددې ظالمانو خونې خرابې کړي )) .

ښایي دلته غلط فهمي ونه شي ، راځئ چې وپوښتو : دا مظلوم کسان څه ډول خلک دي ؟ اوله څه ډول ظالمانو سره یې سر شوی دی ؟ ایا دوي کولی شي او دا قدرت او وسه لري چې ددې ظالمانو ګوتې ورماتې کړي او که نه ؟
که چیرته دوي کولی شي چې د ظالمانو خولې په سوک ماتې کړي او په نتیجه کې خپل ځان دهغه له ظلم څخه وژغوري ا و دوي دا کار نه کوي او وایي چې زمونږ صبر دې په خدای پاک وي ، دا صبر، صبر نه دی او په دې ډول صبر کولو خدای (ج) او خلکو ته مختورن دی ، دداسې صبر په وسیله یوازې دا نه چې خدای پاک کوم ثواب نه ورکوي بلکې دهغه د قهر او عذاب وړ ګرځي.
نو صبر په اسلا م کې ددې لپاره دی چې ژوند سرې ،تودې ،خوږې او ترخې لري ،

---

( ۱ ) د رحمان بابا دیوان ، ۲۴ مخ
( ۲ ) بایزید روښان ، خیرالبیان ، کابل چاپ ، ۱۲۱ مخ

انسان ته ښایي چې د ژوند په دې اړودوړ کې خپله پوهه او عقل له لا سه ورنه کړي او د تل لپاره خپله ښه او حالت معتدله وساتي تر څو چې د افراط او تفریط په کندو کې د قدرت یا کمزوری په وختو کې ونه غورزیږي. صبرپه اسلا م کې د روحي ماتې د مخنیوي لپاره ښاکل شوی او اسلام پرې امر کړی دی.

# د تصوف پنځم مقام توکل

دنورو مقامونو په څير دتوکل مقام هم پخپل ژوند کې په خدای(ج) باندې توکل په مسلمانانو کې عموماً او د صوفيانو په منځ کې په ځانګړې توګه ځای لري ځکه چې قرآنکريم فرمايي: ((*وعلى الله فليتوكل المتكلون* )) يعنې يوازې په خدای پاک باندې توکل کوونکي بايد توکل وکړي .

بل ځای بيا وايي: ((*ومن يتوكل على الله فهو حسبه* )) يعنې هغه څوک چې په خدای پاک توکل وکړي هغه يې بس دی.

ابونصر سراج طوسي وايي: چې توکل په دريو ډولو دی:

**لومړی دعامو موءمنانو توکل :**

هغه دا سې څرنګه چې ابوتراب نخشبي ويلي دي: ((توکل د خدای(ج) په بندګی کې دځان لا هو کولو ، او دهغه تر ربوبيت پورې دځان تړلو څخه عبارت دی چې انسان بايد دهغه دبخښنې او عطا په انتظار کې وي که چيرته څه ورکړي دهغه شکر باسي او که څه ورنکړي صبر کوي او په تقدير راضي کيږي.

ذوالنون مصري وايي: ((توکل د خپل نفس تدبير پريښودو او دخپل قدرت او طاقت څخه د بيخې وتو څخه عبارت دی.

**دوهم د خاصانو توکل :**

هغه لکه څنګه چې ابولعباس بن عطا وايي: ((هغه څوک چې په خدای(ج) باندې له هغه څخه پرته د بل څه لپاره توکل وکړي ، ده په خپل توکل کې په خدای پاک توکل نه دی کړی. څو پورې چې په خدای(ج) باندې توکل خپله د خدای پاک په مرسته او د خدای(ج) له پاره ونه کړي . چې يوازې په دې وخت کې دی ويلي شي چې په خدای(ج) توکل لري .

**دريم د خاصوالخاصو توکل:**

شيلي د دوی دتوکل په هکله دا سې وايي: ((توکل دې ته وايي چې ته د خدای پاک په وړاندې ځان هيڅ وبولې او يوازينی موجود درته الله پاک ښکاره شي . )) چې دا مرحله بيخې د فنا مرحله ده او په دې وخت کې توکل کوونکی خپل شخصيت او هويت له لا سه ورکوي .(۱)

دتوکل په هکله له صوفیانو څخه عجیبې او غریبې کیسې پاتې دي ، مثلاً: ابوحمزه خراساني داسې کیسه کوي :

(( یوکال دحج په لورې وخوځیدم په لاره تلم یو ناڅاپه په یوه څاه ( کوهي ) کې ولویدم زړه مې راته وویل چې چیغې کړم چې څوک راخبر شي ، بیا مې زړه کې وویل چې نه ، قسم په خدای چې هیچاته نارې نه کړم ، دا خبره مې لا په زړه کې وه چې ګورم دوه تنه دڅاه سر ته راغلل او یو بل ته یې وویل چې راځه ددې څاه سر پټ کړو چې څوک په کې ونه غورزیږي ، همغه و چې دروي ، لرګي او نور لوازم یې راوړل او د څاه سر یې پټ کړ ، په دې وخت کې مې بیا وغوښتل چې نارې کړم ، بیا مې وویل چې هغه چاته باید نارې کړم چې له دوی څخه تاته نژدې دی او غلی شوم کله چې یو ه شیبه تیره شو ه یو شی مې ولید چې د څاه سر یې خلاص کړ او ښکته یې پښې راځوړندې کړی او آواز یې خوت نو زه پوه شوم چې ماته وایي چې لا س دې زما په پښو کې کلک کړه . په دې هکله رحمان بابا وایي:

*توکل مې لاس پښې سره کړه په نکریزو چې په ځای یې کښینولی یم قرار*

ما هم خپل لا سونه او منګولې پرې ښخې کړې او له څاه څخه یې راجګ کړم. (۲)

ستر شاعر خوشحال خان توکل داسې ستایي :

| | |
|---|---|
| چې خبر په توکل دي | جز یې مه ګڼه چې کل دي |
| خپل کاروسپاره و خدای ته | سبب مه پریږده خپل رای ته |
| اعتماد یې په کرم کړه | مه په مال مه په درم کړه |
| که وکیل که وسیله وي | که دې څه نوره هیله وي |
| که لښکر لري بې عده | مال و ملک لري بې حده |
| که دې توان د شجاعت وي | که تکیه کړی په .... |
| که سړی سبب کامیاب کا | کار مسبب الا سبا ب کا |

که لری ته ډېر هنره توکل به وي ورسره
ته خپل کار وخدای ته پریږده توکل کوه مه ریږده (۱)

دولت لوڼي هم دتوکل په اړه ویلي دي :

کم همت نادان په رزق پسې پریشان دی په رازق اعتماد نه کا بې یقین شه
د ازل په عهد واړه فرامــوش کـه د زړه حب یې په فرزند په اسپ وزین شه

**انتقاد** : له صوفیانو سره شریعت د توکل دا معنی نه مني چې دژوند له اسبابو سره ضدیت ولري یعنې توکل دې ته نه وایي چې سړی دې بیخې د دنیا کارو بار پریږدي او په یوه ګوښه کې دې ژوند غوره کړي .

ځینې صوفیان د توکل په حقیقت او مانا نه دي پوهیدلي ، ځکه که چیرته دوی د توکل په معنا پوره پوهیدلي وای هیڅ وخت به یې د دنیا له کاروبار سره ضد نه ښوده .

د توکل مانا داده چې د سړي زړه په یوه وکیل ډاډه وي ا و کلک باور پرې ولري خو دا داسې مانا نه ورکوي چې سړی د دنیا په کاروبار پسې ځان ونه ښوروي

یوه ورځ یو سړی پیغمبر (ص) ته راغی او خپله اوښه یې له مسجد څخه د باندې پرته له دې چې وې تړي خوشې کړه او دی مسجد ته ورننوت ، پیغمبر (ص) تري پوښتنه وکړه هغه سړي ورته په ځواب کې وویل : چې خوشې مې کړه او په خدای (ج) مې توکل وکړ . پیغمبر (ص) ورته وفرمایل : ګونډه یې کړه او نور توکل وکړه . (۲)

په دې پورته خبرې کې دې ته اشاره ده چې انسان ته ښایي له خپلې وسې او کوښښ څخه وروسته بیا د کار په انجام کې په لوی خدا ی (ج) توکل وکړي ا و په دې هکله د هر رنګ سبب او وسیلې پسې وګرځي .

هغه څوک څه ارزښت لري چې د هغه په خیال د توکل شرط دادی چې ټول کارونه دې خدای (ج) ته پریښودل شي ، انسان باید کسب او کار ونه کړي ، د سبا ورځې غم ونه خوري ، له مار ، لړم ، زمري ، لیوه څخه سړی باید ونه تښتي ، که چیرته ناروغ کیږي درمل دې ونه خوري ، دا خبرې ټولې خطا دي او له شریعت څخه مخالفې دي .

که چیرته څوک خپل لا س ډوډی ته نه ور اوږدوي او خولې ته یې نه جګوي او وایي چې خدای (ج) دې ما له ډوډۍ پرته موړ کړي او په ما کې دې مړښت پیدا کړي یا دې په خپله خوراک را په خوله کړي

---

(۱) خوشحال کلیات ، دانش خپرندویه ټولنه ، ٦۱۱ مخ

(۲) تلبیس ابلیس ، بن جوزي ، دبیروت چاپ ، ۳۱۲ مخ

او یا دا چې واده نه کوي او وایي چې خدای پاک دې بې له ښځې ماته ځوی راکړي او داسې ګمان کوي چې دا توکل دی ، حال دا چې دا توکل نه دی بلکې حماقت دی . (۱)

## د تصوف شپږم مقام قناعت

قناعت هم د تصوف او صوفیانو په منځ کې ډېر لوړ مقام او ارزښت لري . له پیغمبر (ص) څخه روایت دی : (( قناعت داسې یوه خزانه ده چې پای نه لري . ))

له ابو هريره (رض) څخه روايت دی چې پيغمبر (ص) ماته وويل: ((قناعت وکړه چې له ټولو څخه پرهيزګار او عابد شي ، خوشحاله ومسرور اوسه ، چې له ټولو څخه شکر کوونکی شي ، او هغه څه چې له ځان له پاره يې غواړې د نورو دپاره يې هم هيله کوه ، چې رښتيانی موءمن شي ، له ګاونډيانو سره ښه ګاونډيتوب کوه چې رښتينی مسلمان شي او ډېر مه خانده چې ډېره خندا زړه وژني . )) (٢)

ابوبکر مراغي وايي: هوښيار هغه څوک دی چې د دنيا دکارونو تدبير په قناعت سره وکړي .

له بايزيد څخه پوښتنه وشوه چې دا دومره لوړه درجه دې په څه وموندله ؟ هغه وويل: ((د دنيا اسباب مې راټول کړل او هغه مې د قناعت په رسۍ وتړل او د رښتيا او صداقت په منجنيق (        ) کې مې کېښودل او د نا هيلۍ سمندر ته مې ورګذار کړل او کرار کرار په ارامه شوم . ))

ذوالنون مصري وايي: ((قناعت به دې د زماني له اهل څخه بې پروا او په ټولو به دې لوړ کړي . )) (٣)

---

(١) تحفة السالکين ، تحقيقات خواجه محمد پارسا ، د دهلي چاپ ، ١٢٧ ــ ١٢٨ مخ

(٢) همدغه اثر ، ٢٢٧ ــ ٢٢٨ مخ

(٣) ترجمه رساله قشيريه ، ابوالقاسم عبدالکريم قشيري ، تهران ، ٢٢٠ ــ ٢٢٢ مخ

رحمان بابا د قناعت په هکله داسې ويلي دي:

په ښه خوي له بدخواهانو بې پروا يم    په نرمۍ لکه اوبه د اور سزا يم

وهرچاته په خپل شکل څرګنديږم    آئينې غوندې بې رويه بې ريا يم

قناعت مې تر خرقې لاندې اطلس دی    پټ د درست جهان پاچا ظاهر ګدا يم

دغنچې په څېر په سل ژبو خاموش يم    لکه بوي هسې په پټه خوله ګويا يم (١)

په همدې هکله بل ځای داسې وايي :

*د قانع له قناعته صدقه شه      هم درهم و هم دينار د دې دنيا (٢ )*

په بل ځای کې بيا داسې وايي:

په دنيا کې که څه کار دی خو د دين دی      د دې کـا ر پـه کـنـنـده و افـريــن دی

چې تقـوی او ديانـت يـې شـي پـه بـخـره      د هـغـو د سعـادت سـتـوری قـريــن دی
قناعت مې هسې خوند په خوله کې کيښود   چې وچ ټوک مې په دهن کې انګبين دی (٣ )

په بل ځای کې له خدای (ج ) څخه سوال کوي او وايي:

خدايه ګنج و قناعت رحمان ته ورکړې      چې بې ملکه بې حشمته دولتمند وي

---

( ١ ) د رحمان بابا ديوان ، صبا خپرندويه ټولنه ، ١٠٨ مخ

( ٢ ) همدغه اثر ، ٦ مخ

( ٣ ) همدغه اثر ، ١٦٢ مخ

( ٤ ) همدغه اثر ، ٢٤٣ مخ

بايزيد روښان هم په خيرالبيان کې د قناعت په هکله داسې ليکلي دي : (( دما پـه ورکـړه دې قناعت کا ، تل دې ليري او سې چې زيان وي د ايمان . . . . *يا موسی امـن لـم يـصبر ببلا يي ولم يشکر بنعمای ومـن لـم يـرض بقضای ولـم تقنع بعطای فليخـرج عـن تحـت سمای فليطلب رباً سوای ، ويلي دي سبحان .* ) ) ( ١ )

ژبـاړه : ای موسـی ! څـوک چـې زمـا پـه ازمـيـښتونو صـبر ونـه کـړي او زمـا دنعمتونـو درناوي ونه کړي او زما په قضا او قدر خوښ نه شي او زما په ورکړه قناعت ونه کړي نو زما د آسمانونو لا ندې دې نه اوسي او ودې وځي او زما څخه پرته دې له بل خدای ولټوي .

د قناعت په هکله دولت لواني داسې ويلي دي:

که قانع یې له مخلوقه طمع مه کړه      بې رازق به تا هیڅوک نه که خبر

قناعت تل باقي ګنج د پیغمبر دی      دقانع په نظر ګنج د سیم و زر هیڅ ( ۲ )

په یوه بل ځای کې وایي:

چې په زړه مې د یقین ډیوه شوه بـلـه      دمخلوق له دره شوه دخواست پښه شله

قانعان به هیڅ ساعت درزق غم نه خوري      چې ضامن یې قادر خدای دی عزوجله(۳)

همدارنګه میرزاخان انصاري دقناعت په هکله داسې وایي:

درنځور زړګي علاج یې قناعت دی      ده یې دا طمع پلیته ورباندې کښیښې ( ٤ )

او بیا په یوه بل ځای کې وایي:

---

( ۱ ) میاروښان ، خیرالبیان ، دکابل چاپ ، ۱۲۲ مخ

( ۲ ) او ( ۳ ) ددولت لوڼي دیوان ، پښتو ټولنه کابل ، ۲۰۱ مخ

عجب ګنج مې قناعت دی      چې پریشان خاطر آرام کړم

حمیدبابا هم دقناعت په هکله له خدای (ج ) څخه دارنګه غوښتنه کوي:

قـنـاعــت راتـه عـطـا کـړی زمـا ربـه      ورک زما حرص و هوا کړی زما ربه

دا سرکښ نس مې سرکوزی کړي په صبر      راتـه ایـلـه دا بـلا کړی زما ربه

دم قـدم زما سـیـده لـری پـه شـرعـه      له لـغـزشه مې نجا کړی زما ربه

په یوه ځای کې رحمان بابا قناعت ستایلي او دحرص غندنه یې په لاندې ډول کړی ده:

لـوړه تند ه نـه شته د قانع په قناعت کې      داکـیمیا کـه زده کا په خـرقـه کې امرا وي

هیڅ اسیر چشمي حاصله نه کړه په حرص کې      بلکه دقحطی په ملک که شاه وي هم ګدا وي

بـې خس و خـاشـاکه د آتش بقا په څه وي    آه و فـريـاد دواړه پــه مـقدار د تـمنـا وي

په همدې ډول رحمان بابا څوځايه د قناعت ځبنتن بډای او توانګر بللی دی او داسې يې ويلي دي:

چې کيما د قناعت يې په لاس کنبيوځي    که ګدا وي د قارون په څير توانګر شي

چې توانګر د قناعت په خزانه شي    بل توانګر په جهان نه شته توانګر دی

همدغه مطلب دولت لوانې په لاندې ډول بيان کړی دی ، او وايي:

چې قانع د قناعت ګنج که له لاسه    د دنيا اهل يې واړه خوشه چين شه

په لاندې بيت کې رحمان بابا قناعت له دين او حرص لـه دنيا سره تـشبه کړی دی او د دنيا طلب کوونکي يې بې وقوفان بللي دي :

واړه بې وقوف دي څوک چې دين په دنيا پلوري

ځــار شــه د هوا و هـوس خـيال تـر قـنـاعـتـه

خوشحال خان خټک هم په يوه شعر کې دنورو ځيزونو په ترڅ کې قناعت ډير غوره بللی دی ، وايي :

هغه څه دی روغ صورت دی    چې بهتر تر سلطنت دی

د دنــيا دولـت کـه ښـه دی    تر دولت نه ښه عزت دی

چـې ډېـر ښــه دی تــر تو قيره    يو صفت بل صداقت دی

چـې سړی له غمه خلا ص کا    هـغـه څه دی قـنـاعـت دی

پــه طـاعـت کـه تـه لويي کړی    حبطه هغـه طاعــت دی

چې فایده لري بې شماره     هغه څه دی مصلحت دی
په منت چې ورکول کا     هغه کله سخاوت دی
که دوزخ دی په دنا کې     د ناپوه سره صحبت دی
خپل نیت ښه لره خوشحاله !
که څه ښه دی خو ښه نیت دی

## د تصوف اووم مقام رضا

کله چې یو صوفي له توبې وروسته د ورع مقام ته راځي او هغه پخوي او بیا د زهد لاره نیسي تر دې چې د زهد په مقام کې د ژوند ټول کړاوونه زغمي او د هیڅ څیز پروا نه کوي ، یوازې په خدای (ج) توکل کوي او توکل په مقام کې ځان پخوي ، وروسته بیا د ژوند په ډګر کې په قوت لا یموت قناعت کوي تر دې چې په پای کې د خدای پاک د قضا او تقدیر په مقابل کې خپلې انساني خدای ورښنلی استعداد پرېږدي او د خدای (ج) په تقدیر باندې هر څه چې وي ، د زړه له کومې خوښ او راضي وي .

(( د رضا په هکله د خراسانیانو او عراقیانو په منځ کې اختلاف شته . خراسانیان وایي چې رضا د تصوف له مقاماتو څخه ده او د رضا واقعي حقیقت او رښیتنی مانا داده چې انسان د توکل او په خدای باندې د باور او ډاډ وروستي پړاو ته رسیدلی وي نو له دې کبله رضا په خپله د انسان په وسه او توان کې ده ، دی کولی شي په خپل

نفس داسې حال رامنځته کړي چې دهغه په مرسته د طبيعت د ټولو پيښو په وړاندې خوشــحاله او خنــدان وي .                                          خــو عراقيان وايي چې رضا له مقاماتو څخه نه ده بلکې د احوالو له جملې څخه ده او انسان نه شي کولی چې هغه په خپل اختيار او کسب لاسته راوړي او په زړه کې داسې حالت رامنځته کړي چې دهغې په مرسته په هرې پيښې خوښ اوسي او پـه زړه کې يې کومه کرکه پيدا نه شي ، خو امکان لري چې دا دواړه مسلکونه سره پخلا شي او يو شان نظر ته سره ورسيږي او داسې وويل شي چې د خدای(ج) د رضا لومړی مرحله کيدای شي چې انسان په خپل کسب ا و اختيار حاصله کړي چې دا د مقاماتو له ډلې څخه وشميرل شي خو د رضا وروستنی پړاو چې هلته انسان خپله کومه اراده او خوښه نه لري بلکې دده اراده د خدای پاک د ارادې بيخي تابع ګرځيدلی وي چې دا د احوالو له جملې څخه دی او د بنده په واک او اختيار کې نه دی . )) ( ۱ )

---

ابوالقاسم عبدالکريم القشيري ، رساله قشيريه ، دتهران چاپ ، ۲۹۵ ــ ۲۹٦ مخونه

ابونصر سراج طوسي د رضا مقام په دريو برخو ويشي ا و وايي : ((د رضا اهل درې ډلې دي :

**لومړی:** هغه خلک دي چې دناوړو پيښو په مقابل کې جزع و فزع نه کوي او نالښت نه کوي بلکې د سختيو او تکليفونو ، محروميت په وړاندې په دې ډول ډاډه وي لکه څرنګه چې د راحت ، آرامتيا او ورکړې په وخت کې خوشحال او خوښ وي او له دې رضا څخه خوند اخلي ، او ويني يې .

**دويم:** هغه کسان دي چې هرڅه د خدای(ج) په رضا کې ګوري او خپله رضا يې بيخي له ياده وتلې وي او نه له هغې څخه کوم خوند اخلي نو دوی ته رنځ ، تکليف ، کړاو ، ورکړه ، بخښنه ، د روزي پراخوالی ټول په يو لړ کې بريښي او کوم توپير ورته نه لري او د دوی وروستنی هيله د خدای پاک د رضا حاصلول دي .

**دريم:** دريمه ډله هغه ده چې له دې څخه يې هم تيری کړی وي ، هغوی له خپلې خوښې او رضايت څخه خو تېر ، تېر دي حتی له دې څخه هم تېر دي چې خدای(ج )

دې له دوی څخه راضي شي ، بلکې دوی وايي چې مونږ په هغه څه خوښ يو چې زمونږ له موجوديت او منځته راتګ څخه تر مخه د خدای(ج) رضا او خوښه وه. نودلته نه زمونږ رضا مطلب دی او نه دا چې خدای دې له مونږ څخه راضي شي ، بلکې مطلب دا دی چې څرنګه د خدای پاک خپله خوښه وي هغه زمونږ مقصد دی او بس . **جنيد** وايي :رضا دې ته وايي چې سړی له خپله واکه تير شي . **ذوالنون مصري** وايي :((رضا دې ته وايي چې د تقدير په حکم د سړي زړه خوښ وي.)) (١)

---

(١) ابي نصر سراج الطوسي ، اللمع ، دمصر او بغداد چاپ ، ٨٠ـ ٨١ مخونه

**رابعه بلخي** وايي: ((رضادې ته وايي چې انسان په محنت او سختيو داسې خوښ وي لکه څرنګه چې په ورکړه او نعمت خوښيږي. ))

**ذوالنون مصري** وايي:((رضا درې نښې لري :

١ـدا چې انسان له خپل اختيار څخه په تقديرباندې له خبريدو نه مخکې لاس واخلي.

٢ـله قضا څخه وروسته کوم تريخوالی احساس نه کړي.

٣ـدا چې د محنت په وخت کې په شوق او ذوق کې وي. ))(١)

**رحمان بابا** وايي:

کـه قـاصد يې د مقصود اواره کـړه زيـان او ســود
هرچې درشي ستا په مخ کې واړه وګـڼـه بـهـبـود
هرچې وي سيوا له خدايه واړه وګـڼـه نـا بـود
رضـا پـاسـله وقـضـا تـه مدام خوښ اوسه خوشنود

هـراسباب د ښـو د بـد و مـهـيا دی هـم مـوجـود

ځوسپند نه شي په اور کې نـه وي خونـد او بوی د عود (۲)

په يوه بل ځای کې د خدای پاک رضا ته ځان تسليمول د خوشحاليو د راتګ لامل

---

(۱) ابوالقاسم ، عبدالکريم ، رساله قشيريه ، د تهران چاپ ، ۲۹۹ مخ

(۲) رحمان بابا ، ديوان ، پښتو ټولنه ، ۱۳۵٦ هـ ش ، ٤٧ مخ

بولي ، او وايي:

هـر چـې خپله رضا پـاسلي و قضا تـه

که هر څو په ځان ناخوښ وي خوښ خرم شي

همدارنګه په يوه بل ځای کې وايي چې درضا په وړاندې د پالبين ( پال ليدونکي ) پال هيڅ ګټه نه لري:

چې د خدای رضا شي پيښنه رمـل پـاتـې د رمـال شــي

همدغه مطلب يې په يوه غزله کې بيا داسې بيان کړی دی:

په هر څه چې د صاحب د زړه رضا شي په بـنـده کـه نــاروا دی هـم روا دی

خواه ناخواه که يې رضاوي اوکه نه وي د قـسمـت رسد رضـا او نارضــادی

ځـان جهـان سپارلـی بـويـه و هغه ته چې يې حکم جاري شوي په هر چادی

د هرچا پـه لا س چې حکم حاکم ورکا جـهـان واړه د هـغـه پـه مدعـا دی

چې مولا ورسره مل نه وي رحمانه

که لښکرې ورسره وي یک تنها دی(۱)

موشګاف او نازکخیال شاعر حمید بابا د خدای(ج) درضا په اړه داسې ویلي دي:

که رضا دا ستا په سروپه مال مومم زر مې سازه دا سودا کړئ زما ربه

هرچې ستا،ستا درسول په کې مرضي وي هغه کار شغل زما کړئ زما ربه

---

(۱) همدغه اثر، ۱۸۲مخ

چې دا ستا، ستا درسول ډېره مرضي وي هم هغه زما روزګار کړئ زما ربه

دپښتو ادب پوهاند او ستر شاعر خوشحال خان خټک رضا داسې ستايي:

رضا څه ده خوشنودي ده په کې ډېره بهبودي ده

چې قضا دربانديې راشي په قضادې رضا ستا شي

که دې سرځي که دې مال ځي په رضا د ذوالجلال ځي

که قضا وته تسليم شي په بلا کې به بې بيم شي

بختور هغه سړي دي چې دخدای په کړه راضي دي

رضي الله عنهم ګوره په رضا کې ته ای وروره

په قضا که ستا رضا شي خدای به هم راضي له تا شي

دخدای حکم به نور نه شي

چې يې حکم هغه وشي (۱)

( ۱ ) خوشحال کلیات ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۱۳۸٤ هش ، ٦۱۰ مخ

## تصوفي احوال

دعرفان او تصوف دلويې لا رې سر ، دسالک او صوفي له خپلې ارادې څخه عبارت دی او هغه څوک چې غواړي دا لويه لار ووهي ، دی بايد تر هر څه دمخه له ناوړو کړو وړو څخه لا س واخلي او په کلک عزم او ټينګه اراده دې ددې لا رې تګ ته ملا وتړي. له دې وروسته بيا هغه ته ښايي چې خپل نفس او روح د تصوف دنورو مقاماتو په ورسيدو تزکيه او سوچه کړي تر دې چې دخپل روح له فضا څخه له خدای پاک څخه پرته ټول شيان لرې کړي او دهغو مينه له زړه څخه وباسي او په پای کې خپلې ناوړې هيلې او غوښتنې ( نفس اماره ) د عقل ، وجدان او پوهې ( نفس مطمئنه ) تر اغيزې لاندې راولي او خپل روح او نفس د خدای پاک د پيژندنې لپاره د هنداري په څير روڼ او صاف کړي .

هغه وخت چې دده اراده دنفس او روح دتصفيې په مرسته پخه شي او دده روح په عملي توګه دې مرحلې ته ورسيږي چې کله کله د الله(ج ) له انوارو او پلوشو څخه خوند واخيستلی شي ، دلته ويلی شو چې دصوفي په زړه داحوالو دبهير سريزه پيل شوه او همدغه پيښه د حال د پيدا ايښت نښانه ده . ( ۱ )

په عملي تصوف کې تر مقاماتو وروسته دا احوال را ځي : ۱ ــ د مراقبه يادزړه څارنه ، ۲ ـ قرب يا خدای(ج ) ته نږديوالي ، ۳ ـ محبت ، ٤ ــ خوف او ويره ، ٥ ـ

هیله او رجا ، ٦ ـ شوق ، ٧ ـ ډاډ یا آنس ، ٨ ـ لیدنه یا مشاهده ، ٩ ـ باور او یقین . ددې ټولو په سر کې د صوفي په زړه کې د خپل زړه څارنه او مراقبه پیدا کیږي.

( ١ ) محمد تقي ، جعفري ، تفسير ، نقد وتحليل مثنوي ، د حيدر آباد چاپ ، ٦٣١ مخ

## ١ ـ دزړه مراقبت او څارنه :

صوفي په دې پوهیږي چې هغه احساسات او عاطفې او نور داسې شیان چې دده په زړه کې تیریږي هغه ټول دخدای په علم او ارادې دي نو له دې کبله د خپل زړه ټول خاطرات په نظر کې نیسي او له شریعت سره سم باید عمل وکړي . د زړه دڅارنې او مراقبې دپاره صوفیان په دریو ډلو ویشل شوي دي:

لومړی: هغه ډله چې د هغو په باب حسن بن علي دامغاني داسې ویلي دي: (( دا ډله صوفیان باور لري او پوهیږي چې د دوی په اسرارو باندې خدای ( ج ) خبر او په زړونو یې پوره پوهه لري . ))

هغه څوک چې په دې ډول باور او عقیده لري هرومرو خپل زړه او خپلو کړو وړو ته په کلکه پاملرنه کوي.

دویم : ددې ډلې په هکله احمد بن عطا داسې وایي: (( ستاسې له ډلې څخه ډېر ښه مجاهده کوونکی هغه څوک دی چې د حق پاملرنه دحق په مرسته په داسې حال کې وکړي چې حق کې فاني او په خپلو ټولو کړو وړو کې د محمد صلی الله علیه وسلم تابع وي . ))

دریيم: دا هغه ډله ده چې هغوي له خدای پاک څخه هیله کوي چې د دوی کارونه په خپله خوښه څرنګه یې چې غوښتي وي سم او سمبال کړي ، دې ډلې صوفیانو بیخې له

خپلې ارادې ، واک او اختيار څخه لا س په سر کړی او ټوله پاملرنه يې د خدای پاک ارادې ته ده. )) (١)

دا ډله صوفيان د خپل زړه د څارنې او خپلو کړو وړو ته د پاملرنې په هکله تر حده

---

( ١ ) ابي نصر طوسي ، اللمع ، دمصر يا بغداد چاپ ، ١٩٦٠ ع کال ، ٨٢ ـ ٨٣ مخونه

تير شوي تر دې چې هغوي خپل ځان ته د دې حق نه ورکوي چې حتی په خپل اختيار دې په زړونو کې څه تير کړي په دې توګه يې ځان يو روحي جبر ته تسليم کړی .

رحمان بابا د خدای پاک په ياد د زړه د روښانتيا په هکله داسې ويلي دي:

هغه زړه چې خدای روښان کا جام د جم شي

پـه دا جام ورښکاره تـمام عـالـم شـي

پـه آدم کـې د حيـوان خويـونـه هم شتـه

بـيـا يـې هـلـه آدم بـولـه چـې آدم شـي

چـې خـويـونـه د چـارپـايـو پـه کې نـه وي

سـړيـتـوب پـه سـړي هـلـه مسلـم شـي

هـر چـې خـپلـه رضـا پـاسلوي قـضـا تـه

که هر څو په ځان ناخوښ وي خوښ خرم شي(١)

په يوه بل ځای کې خدای پاک ته په خپل زړه کې د ځای ورکولو په بدله کې له خپل سر او مال څخه ځاريږي ( تيريږي ) او داسې وايي:

چې يې نقش په زړه خيال شي د آشنا    صدقـه يـې سـرومـال شي د آشنا

خوشحالي زما د زړه به هغه دم وي    چې آشنـا پـه تيغ حلال شي د آشنـا

خوشحالي زما د زړه به هغه دم وي    په هردم چې زړه خوشحال شي د آشنا

(۱) رحمان بابا دیوان ، دپیښور چاپ ، ۹۱ مخ

زرغونه کانـدې دانه زما دعـیـش      چې په زړه مې زرغون خیال شي دآشنا

درحمان نظر په هیڅ چا باندې نه دی
چې نظر یې په جمال شي د آشنا (۱)

په یوه بله غزله کې رحمان بابا خپل زړه د خدای(ج) په ذکر (یادولو) خوښ او خرم ښکاره کوي او خپله حقیقي مینه داسې تمثیلوي:

زړه مې ستا په فکر ، ذکر ګلستان دی      نن مې ستا له غمه پاڼه د خزان دی
ستا له هجره په زړه هسې بهره مند یم      چې په سترګو کې مې جوړ رود روان دی
ستا کتو مې عجب زخم په زړه وکړو      چې هم وینې ترې بهیږي هم خندان دی
هسې رنګ مې د خپل زړه له وینو واخیست      چې ځان درست راته په شکل د جانان دی

بیا د خپل سوي زړه کیسه داسې کوي ، او وایي:

*هغه زړه چې ستا دعشق په اور کباب دی*
*که مرهم ورباندې کیږدې ډیر ثواب دی*
*حجابونه له اغیارو مناسب دي*
*دیارانو په یاری کې څه حجاب دی*

همدارنګه په یوه بل ځای کې وایي:

که مې زړه له غمه وچوي راته وایي      غم د هجر دغه مه ګڼه لا نور دی

(۱) رحمان بابا ديوان، دپيښور چاپ.

داجهان نه دچاخپل دی نه به يې خپل شي

چاپه خپله رضا پريښوه چا په زور دی

ميرزاخان انصاري هم د خدا ی(ج) په ياد باندې د زړه د بسيا کيدو او روښانيدو په اړه داسې ويلي دي:

*په هرزړه چې دآشنا دياد ګذر شي په يقين له غيره خويه په حذر شي*

*د دانا زړګي عجيبه روښنايي ده دآسمان د ځمکې مخ پرې منور شي*

*په تحقيق به ترکماله ورسيږي چې په دالا ربې دزړه په پښې ګذر شي*

په يوه بل ځاى کې بيا همدا ميرزا خان زړه د يوې کروندې سره تشبه کوي او په هغې کې د ښو خويونو او ناوړه اخلاقو استعدادويني، وايي:

دغه زړه د سړي ځای دی د کرلې

پرې کرې ځينې سموم ځينې دوا

په يوه بل ځاى کې يې داسې ويلي دي:

ستا که ډار شي په وجود کې له مواسه تل و زړه ته پهره دار شه له وسواسه

ملا دنفس په ميرخي وتړه استواره په نرمی به سود يونه سې له خناسه

بيا داسې وايي:

چې په زړه باندې چراغ دعقل نه وي

د نـــادانـو نـــاپـــوهـــي ده غـــوا

همدارنګه دايې هم په يوه ځای کې ويلي دي:

ددې روح لـه روښـنـايي خبر نه شوی

ای !دزړه په غوږو کوڼ په سترګو کوره

په پورته ذکر شوو ټولو اشعارو کې د زړه بيلا بيل حالا تو ځارنه هغې ته پاملرنه له ورايه ځرګنديږي .

## ۲ ـ خدای (ج ) ته د نزديوالي حال:

کله چې صوفي خپل زړه ځاري او ډېره کلکه پاملرنه کوي چې لـه ناوړه کار او ناوړو هيلو څخه ځان وساتي او تل يې د خدای پاک پـه لـوري هڅه وي ، تر د ې چې هغه لـه ټولو شيانو څخه ځان ته نږدې بولي او په دې باب د قرآنکريم پـه دې آيـاتونو استناد کو ي چې: ((*نحن اقرب اليه من حبل الوريد* )) يعنې زه هغه (( انسان )) تـه دهغـه لـه شارګ څخه ورنـژدې يم .

يا : ((*و نحن اقرب اليه منکم ولا کن لا تبصرون* )) يعنې زه هغه (( رنځور )) له تاسې څخه ډېر ورنـزدې يم خو تاسې مې نه وينی .

پـه تصوف کې خدای (ج ) تـه د نـزدې والـي مانـا دا ده چې دصوفي پـه زړه کې داسې نښانې او علا مې تيريږي او پيـدا کيږي چې ورځ پـه ورځ دهغـه تلوسه د خدای ( ج ) پـه لـوري زياتوي ، چې پـه نتيجـه کې تـل دخدای (ج ) پـه يـادونو بسيا او د هغـه پالنـه او ستاينه يې بيخي خوی او خاصيت ګرځي ، او صوفيان ددې حال لـه پلوه بيا هم پـه درې ډلو ويشل شوي دي :

**لـومړی:** هغـه صوفيان دي چې تـل د خدای (ج ) پـه عبادت مشغول ، او خپـل ځانونـه دهغـه قدرت او ارادې ( شريعي ارادې ) تـه پـه هر حال سپاري او خدای پـاک ځان تـه نزدې بولي .

**دويم:** هغه ډله صوفيان دي چې په هر څيز کې خدای (ج)ويني او له هغه څخه هيڅ شی دوی ته نږدې نه ښکاري .

عامربن قيس ددې ډلې په استازيتوب داسې وايي: ((هر څيز ته چې وګورم او نظر ورته کوم له هر څه نه ماته خدای پاک نږدې بريښي. (۱)

**دريیم:** له دې ډلې څخه يو تن يعقوب السوسي دا نږدې والی تمثيلوي او وايي:

((څو پورې چې صوفي د نږدېوالي احساس کوي ، تر دې وختـه لا د قـرب درجې ته نه دی رسيدلی مګر هغه وخت چې په ده کې دخدای پاک د نږدېکت پواسطه له هغه څخه دقرب او نږدېوالي خاطره محوه شي او له ياده يې ووځي. نو کله چې دهغه څخه د خدای (ج) د نږدېوالي احساس محوه ، او ټول دهغه د نږدېوالي له امله په هغه بسيا او مشغول شي ، يوازې دې ته رښتيانی قرب او نږديتوب وايي. ))(۲)

له ((رويم)) څخه پوښتنه وشوه چې د خدای (ج) د قرب مانا څه ده ؟ هغه وويل: ((دژوند ټول موانع او عوارض له خپلې مخې لرې کول ، دخدای (ج) د نـږديوالي مانا ده . (۳) ))

عبدالقادر جيلاني (غوث الاعظم) د خدای (ج) دقرب په هکله داسې وايي:

((تـه بـه لـه دوو حالتونو خالي نه يې ، يا داچې د خدای (ج) څخه بـه لـرې يې او يا بـه ورنـږدې ، که چيرته له خدای (ج) څخه لرې يې نو د څه لپاره ناست يې او څنګه ددې

---

(۱) ابي نصر طوسي ، اللمع ، دمصرا و بغداد چاپ ، ۸۷ مخ

(۲) همدغه اثر ، ۸۴ـ۸۵ مخونه

(۳) دخواجه محمد پارسا تحقيقات ، تحفة السالکين ، ددهلي چاپ ، ۲۴۷ مخ

لويې نصيبې په ګټلو کې لټې کوي او په دې نعمت پسې نه ګرځې ، ژر شه جګ شه دهغه په خوا په دوو وزرونو ورالوزه ، يو وزر د دنيادلذتونو له پريښودلو څخه عبارت دی ، حرام او حلال ټول پرېږده او خوب ، راحت ، کرار تيا ( استراحت ) په ځان ودروه . او بل وزر له دې څخه عبارت دی چې په ځان باندې تکليفونه ، کړاوونه ، سختې او ربړونه راوله او ډېرو مشکلاتو ، رياضت او زحمت ته اوږه ورکړه ، له خلکو ځان ګوښه او له خپلو هيلو او ارادې څخه که د دنيا په باب وي او که د اخرت ، ځان خلا ص کړه تر څو حق ته ورسيږې او وکولې شې چې هغه ته ورنږدې شې ، په دې وخت کې هر څه چې غواړې او هر رنګه ( شرعي ) هيلې چې لرې ټولې به پوره او يو برابر شي او لوې کرامت به دې په برخه شي . )) ( ۱ )

رحمان بابا د خدای پاک قرب او نږدېوالي ته داسې تلوسه لري ، وايي:

کـه مـې وشـي لـه دلـبره مـلاقـات　　پابه نه ځم له دې دره پـه حيات

پس له دې مې دې استوګنه خدای نصيب کا　　په دادر کې که حيات وي که ممات

ښايي دا که زه خپـل يار وتـه سـجـده کـړم　　هـغـه يـار زما قبله دی د حيات ( ۲ )

په بل ځای کې د خدای(ج) د وصال دا رنګه ستاينه کوي:

زه بلبل ستا دوصال يم بوستان څه دی　　ستا دوصل په نسبت ګلستان څه دی

چې اشنا شـي سـتا لـه دره لـه ديواره　　انتظار يې په روضه د رضوان څه دی

چې روزي يې شهادت شي ستا له تيغه　　احتياج يې په چشمه د حيوان څه دی ( ۳ )

---

( ۱ ) عبدالقادر ، جيلاني ، فتوح الغيب ، د نوالکشور چاپ ، ۱۷۹ ــ ۱۸۰ مخونه

( ۲ ) رحمان بابا ، ديوان ، پښتو ټولنه ، ۱۳۵۶ هـ ، ش ، ۴۱ مخ

( ۳ ) همدغه اثر ، ۲۰۲ مخ

همدارنګه روښاني شاعر ارزاني هم د قربت په هکله داسې ويلي دي:

قـربـت يې نـزديـکـي ده     په وصلت کې لا دويي ده
په وحدت کې دويي نه شته     سـکونـت کل نيک خويي ده (۱)

او په يو بل ځای کې بيا وايي:

تر معرفت يې لوی قربت دی     دا قـربـت پـه ډېر غـربت دی
لـه خـپـل ربـه بـه اشــنـا شــي     چې اشنا په خپل قربت دی

بل روښاني شاعر دولت لواڼی هم د قربت په هکله داسې ويلي دي:

دقـربت ذکر مـقـام د سـامعـان دی     پوهيده پـه تسبيحات او اوازونه
بې مثلي عجب اواز په زيرو بم کا     دا افکار لکه سرود اشيا تارونه

نوميالی روښاني شاعر ميرزا خان انصاري د وروستي ډلې صوفيانو قربت پـه يو لنډ بيت کې داسې بيانوي:

زه وتاوته نزدې يم     بيا له تا په تا مستور (۲)

---

(۱) عبدالحی ، حبيبي ، دپښتو ادبياتو تاريخ ، پښتو ټولنه ، ۱۳۴۲ هـ ش ، ۳۴۰ ـ ۳۴۹ مخونه

(۲) ميرزاخان انصاري ، ديوان ، دپيښور چاپ ، ۲۵۰ مخ

### ۳ ـ د محبت حال:

کله چې صوفي خپل زړه تر سختې څارنې لا ندې ونيسي او تر ټولو شيانو څخه ورته خداى پاک نژدې ښکاري او د هغه جلا ل ، عظمت ، قدرت ، علم مهر او ترحم ته ځير شي ، له يوې خوا د هغه په زړه کې ويره او له بلې خوا يې له خداى پاک سره مينه او محبت پيدا کيږي.

د محبت په هکله په قرانکريم کې ډېر آيتونه او همدارنګه په دې اړه ډېر نبوي احاديث شته ، مثلاً: (( فسوف ياءتى الله بقوم يحبهم و يحبونهم )) يعنې ژر دى چې الله پاک به داسې قوم رامنځته کړي چې دى به محبت ورسره لري او هغوى به له ده سره محبت لري.

يادا چې : (( قل ان کنتم تحبون الله فاتبعو ني يحببکم الله. )) يعنې ورته ووايه ! ( اى پيغمبره ) که تاسې له خداى (ج) سره مينه او محبت لرئ زما پيروي وکړئ ، چې خداى مينه او محبت درسره وکړي.

يا دا چې: (( يحبونهم کحب الله والذين امنو ا اشد حباً الله. )) يعنې ( کافران ) له خپلو بتانو سره داسې مينه لکه له خداى (ج) سره او هغه کسان چې موء منان او باور لرونکي دي له خداى (ج) سره زياته مينه او محبت لري .

په لومړي آيت کې يې خپل محبت تر مخه ذکر کړ او په دوهم کې يې د دوى محبت اول راوړ او په دريم کې يې يوازې د دوى ( انسانانو ) محبت څخه يادونه وکړه.

د ابي نصر طوسي له نظره صوفيان بياهم په دريو ډلو ويشل شوي دي:

#### ۱ ـ دلومړنيو مراحلو مريدان او حتى د عامو خلکو ډله:

هغه دا چې له هغوي سره د خداى پاک د ښيګڼو او مهربانيو په مقابل کې مينه او محبت پيدا کيږي .

سمنون ددې خلکو د مینې او محبت د رښتیا والي نښانه داسې بیانوي :(( دتل لپاره باید دا مینه وپایي او یادونه یې وکړي ځکه څوک چې له کوم شي سره محبت لري ، هغه بیا زیات او ډېر یادوي . ))

**۲ ـ دویمه ډله:** داچې کله دا ډله د الله تعالی استغنا ، جلا ل و عظمت ، علم او قدرت ته ځیر شي هغه ته په خپله خوښه ځان سپاري او په مقابل کې یې مینه او محبت پیدا کیږي ، چې دا درښتینو او محققینو محبت دی.

ابراهیم خواص څخه ددې ډلې پوښتنه وشو ه ، هغې داسې وویل:(( محبت د خپلې ارادې محوه کول ، او دخپلو شخصي صفتونو سوزول دي. ))

**۳ ـ دربیمه ډله:** دهغو عارفانو ډله ده چې دوی دخدای(ج) په قدیم محبت باندې چې هیڅ تمه په کې نه وه او پکې نه شته ، پوهیدلي دي ، له دې کبله دوی هم له هغه سره بې له کومې تمې مینه او محبت کوي.

ذوالنون مصري څخه پوښتنه وشوه ، چې له خدای پاک سره سوچه او خالصه مینه کومه ده ؟ هغه وویل: له خدای(ج) سره سوچه او خالصه مینه دا ده چې مینه نور بیخې له زړه او اندامو څخه ووځي ، تر دې چې په هغه کې هیڅ پاتې نه شي ، او د خدای(ج) په خوښې د خدای د پاره کار کوي. یوازې همدغسې انسان د خدای(ج) رښتینی مین دی.

له دې خبرې څخه دهغه مطلب دادی چې له خدای پاک سره د تعلقاتو په منځ کې باید هیڅ کوم مادي غرض نه وي او نه جسدي ګټه ، او د هغه اړیکې باید د روحي پاکۍ او تزکیې په غرض استخدام شي.

دمحبت په هکله له جنید څخه پوښتنه وشوه ، هغه داسې وویل:(( محبت دې ته وایي چې په محبت کې دمحبوب صفتونه او خویونه پریوزي. ))(۱)

---

(۱) ابي نصر طوسي ، اللمع ، دمصر او بغداد چاپ ، ۸۶ ، ۸۷ ، ۸۸ مخونه

مولانا جلا الدین بلخي وایي: په ادمي کې عشق ، لټه ، یو تلوسه ، غوښتنه او یوه تقاضا شته دهغه په ختېه کې مینه ایښودل شوي ، که سل زره عالمه دده مال او ملک

شي ، بيا هم نه ارامیږي ، انسان په هر کار او پیشه ، صنعت او د علم ، پوهې په زده کړې کې زيار باسي او د منصب د لا سته راوړلو په کار کې هلې ځلې کوي او هيڅ نه کراريږي ، ځکه هغه څه چې هغه يې غواړي ، او لا لهانده ورپسې ګرځي ، لاس ته نه ورځي ، او زړه يوازې په خپل معشوق او محبوب ارامیږي ځکه هغه ته دل آرام وايي (۱).

د خدای پاک د مينې په باب په پښتو ادب کې د شيخ متي شعرونه ( چې هغه د ۶۲۳ څخه تر ۶۸۸ هـ کلونو پورې ژوند کاوه ) د يادونې وړ دي ، دې پياوړي عارف د (( خدای مينه )) په نامه يو کتاب هم ليکلی دی چې دبيلګې په ډول دده دا لاندې شعرونه رانقلوو . دا شعرونه د تصوف په مغز ځرخي او ډېرو ژورو مسايلو ته اشاره کوي او په ځانګړې توګه د خدای (ج) له مينې څخه يادونه کوي :

په لوی سهار په نيمو شپو کې  په لو يو غرو هم په دښتو کې
ياد وير ژلو په شپيلو کې  په غاړه ږغ او په شپيلکو کې
دا ستا دمينې ننداري دي  ټول ستاديادناري سورې دي
د بر بڼ خواته په خندا دی  جنډې زرغون که په بيديادی
دا ټول اغيز دمينې ستا دی  ترنګ چې خړ دی په ژړا دی

ټوله ښکلا ده ستا له لاسه
ای ! دپاسوالو پاسه پاسه

---

(۱) مولانا جلا الدين بلخي ، فيه مافيه ، اعظم ګړی معارف مطبعه ، ۶۹ ـ ۷۰ مخ

يا د سپوږمیه تندی ورين دی  که لمر روښانه مخ يې سپين دی
لکه هنداره مخ د سين دی  کـه غـر دی ښکلی پرتمين دی

ستا دښکلا دا پلوشه ده
دا يې يو سپکه ننداره ده
دلته لوی غرونه زرغونيږي د ژوند وږمې پکې چليږي
بوراوې شاو خوا کړيږي سترگې ليدو ته يې هيښيږي
لويه خاونده ټوله ته يې
تل دنړۍ په ښکليده يې
خاونده ښکلی ستا جمال دی ښکاره يې لور په لور کمال دی
که ورځ که شپه که پيړۍ کال دی ستاد قدرت کمکۍ مثال دی
ستا دلورونو يوه رڼا ده
دلته چې جوړه تماشاده
زړه مې دا ستا دمينې کور دی سوی د عشق په سوزند اور دی
رپ يې وتاته ستا په لور دی بې له دې هيڅ دی ورک يې پلور دی
ستا دجمال په ليدو ښاد دی
که نه وي دغه نور برباد دی (١)

---

(١) عبدالحي ، حبيبي ، پښتوادبياتو تاريخ ، دوهم ټوک ، پښتو ټولنه ، کابل ، ١٣٤٢ هـ کال ، ١٦٦ مخ

رحمان بابا په خپل تصوفي ذوق د الله پاک د مينې په هکله داسې وايي:

*په هر زړه چې ديار مينه شي غالبه بله مينه يې هيڅ نه وي مناسبه*
*نورې واړه مرتبې به ورته هيڅ شي که خبر شي څوک له هسې مراتبه*

لیاقت یې هر وګړي څخه نه شته عاشقي یوه پایه ده عجایبه (۱)

په دې څو بیتونو کې رحمان بابا د خدای (ج) مینه له بل هر څیز څخه غوره ګڼي او د مینې د حال مرتبه له بلې هرې مرتبې څخه لوړه بولي ، خو دده له نظره په دې خبرې یوازې هغه کسان پوهیږي چې د مینې د حال له مرتبې څخه خبر وي ، او هر څوک هم دې مرتبې ته د رسیدلو وړ نه بولي ، او د مینې او عشق او هغه هم حقیقي عشق هڅه او دعوه دده له نظره د هر چا کار نه دی .

رحمان بابا د نورو صوفیانو په څیر د خدای د مینې د حال ، حاصلولو په صورت کې له نور هر څه څخه لاس اخلي او د هغو محبت او مینه له زړه څخه باسي او د خدای پاک د مینې د دعوی په صورت کې له نورو څیزونو سره مینه رواء نه بولي ، لکه چې وایي :

*که زما مینه په تا ده خطا نه ده که بې تا ده ناروا ده رواء نه ده*

*څوک چې بې د تا له مخه بل ته ګوري آینه یې نا صفا ده صفا نه ده*

*هغه تیر شو چې مې مینه په غلا غلا کړه اوس په درست جهان رسوا ده په غلا نه ده*

*معشوقه که د خپل سر په بها مومې*

*و رحمان وته ویړیا ده بها نه ده*

---

(۱) او (۲) رحمان بابا ، دیوان ، مرتب محمد عارف ، غروال ، پښتو ټولنه ، ۱۳۵ هش کال ، ۱۳۱ ، ۱٤۰ مخونه

د خدای (ج) د مینې په هکله رحمان بابا ډېر شعرونه لري چې هغه کله ښکاره د حقیقي عشق په بڼه او کله کله یې د مجازي عشق او مینې په څیره تمثیل کړي دي .

همدارنګه میرزا خان انصاري د خدای (ج) د مینې په هکله داسې ویلي دي :

زه څرګند د محبت په ښه بنیاد یم له نیستیه هم په دا هستی آباد یم

په ازل مې دا اقرار په ژبه وکړ تر ابده وفادار په خپل میعاد یم (۱)

پـه دې شعر کـې میرزا خـان انـصاري دا پـه ګوتـه کـړې چـې دخدای پـاک مینـه او محبت دانسان په ختـه کې اخښل شوی او همدارنګه دانسان پیدا ایښت دده لـه نظره دمینـې او محبت پـه غرض و.

نوداچې دانسان په ختـه او فطرت کې لا له همغه پخوا څخه لکـه چې مخکـې جلا الدین بلخي وویل، دخدای(ج) مینه ایښودل شوی، میرزا خان انصاري تر ابده پـورې پـه همدې مینې باندې د وفا او پاتي کیدو وعده ورکوي، ځکه چې دی پـه همدغـه مینـه موجود دی او په همدغه مینه پایي:

دبلبل چې آشنـايي شوه لـه سمنه ددې ګل په مینه راغی له چمنه
دا تمام صورت دزړه په رضا درومي او د زړه سفر د سترګو له روزنه(۲)

---

(۱) میرزاخان، انصاري، دیوان، دپیښور چاپ، ۱۵۸ مخ

(۲) همدغه اثر، ۱٦٤ مخ

## ٤ ـ دوېرې او خوف حال:

دمخه مو وویل چې د خدای(ج) دنږدېوالي له حال څخه دصوفي پـه زړه کـې یـا مینـه او محبت په ډېر پیاوړي توګه ښکاره کیږي، او یا دهغه په زړه کې د خدای(ج) له هیبت او عظمت څخه ویره او ډار غلبه کوي، که چیرته یو صوفي د د خدای پاک ته دنږدېوالي پـه حال کې چې دده له زړه څخه د ((غیب)) پردې پورتـه شوي دي، دهغـه عظمت او جلا ل تـه پـه ځیر شي پـه دې وخت کې هرومرو دده پـه زړه کې دخدای پاک څخه ویره پیدا کیږي

، او که چیرته هغه دقرب په حال کې د خدای (ج) احسان او مهربانیو ته نظر وکړي په دې وخت کې د هغه په زړه باندې د خدای (ج) مینه او محبت غلبه کوي.

صوفیان ددې له مخې هم په دریو ډلو ویشل شوي دي:

۱ ـ هغه چې یو ازې دخدای پاک له حساب او پوښتنې څخه ویره لري.

۲ ـ هغه چې دخدای پاک له جلا ل او عظمت څخه ویره لري.

۳ ـ هغه چې له خدای (ج) څخه پرته نور له هیڅ څیز او هیچا څخه ویره او ډار نه لري. (۱)

له خدای تعالی څخه ویره او ډار د څرنګوالي او کیفیت له مخې هم په درې ډوله ده:

**الف ـ زیاته ویره**: زیاته ویره هغه ده چې سړی د ناهیلۍ او یاءس درجې ته ورسوي او درنځ او حتی مړینې سبب ګرځي، چې دا رنګه ویره رواء نه ده.

**ب ـ لږه ویره**: لږه او کمه ویره هغه ده چې سړی له ناوړه کارونو څخه نه شي ایسارولی چې دا هم دومره په درد نه خوري.

---

(۱) ابي نصر طوسي، اللمع، دمصر او بغداد چاپ، ۸۹ مخ

**ج ـ منځنې یا معتدله ویره**: معتدل ډار او ویره هغه ده چې سړی له ناوړو کارونو څخه ایساروي، ښو کړو وړو ته یې تشویق او وهځوي. دا رنګه ویره دعلم او پوهې نتیجه وي. (۱)

<u>دویرې او خوف دحال په هکله دصوفیانو خبرې:</u>

ابو عمر دمشقي وایي: کله چې یو څوک له خپل دښمن څخه زیات دخپل نفس له شر څخه ویریده، هغه دویرې څښتن بللی شو.

احمد وايي: له خداى پاک څخه چې هر څوک ويريږي هغه داسې وي چې نور ټول هغه شيان چې له هغو څخه ويره او ډار موجود وي ، له ده څخه وويريږي . يعنې هغه څوک چې په رښتيا له خداى څخه ويره لري ، بايد دومره هيبت ولري چې نور ټول ډارونکي او ويرونکي شيان له ده څخه ويره او ډار وکړي ، لکه څنګه چې وايي: ((من خاف الله يخافه كل شیء )) يعنې څوک چې له الله(ج) څخه ويريږي ، له هغه څخه ټول شيان ويريږي . (٢)

<u>دخوف او ويرې نښانې په اوو شيانو کې ليدل کيږي:</u>

١ ـ په ژبه کې: هغه څوک چې له خداى(ج) څخه ويريږي خپله ژبه له دروا غو ، غيبت ، غمازي ، چغلي ، تهمت کولو ، او تور څخه ايساروي.

٢ ـ په زړه کې: څوک چې له خداى(ج) څخه ويريږي له خپل زړه څخه کينه ، رخه ، عداوت ، حسد او داسې نور نفسي رنځونه باسي .

---

( ١ ) دخواجه محمد پارسا تحقيقات ، تحفة السالکين ، د دهلي چاپ ، ٢٣٨ مخ

( ٢ ) ابو ابراهيم بن اسماعيل بخاري ، شرح تعرف ، نولکشور لکنهو ، ١٢٨ مخ

٣ ـ په نظر او کتلو کې: څوک چې له خداى(ج) څخه ويره او حيا لري دحرامو په لورې نظر نه کوي .

٤ ـ په خوراک کې: هغه څوک چې له خداى(ج) څخه ډار لري ، د حرامو له خوړلو څخه ځان ساتي .

٥ ـ په لا سو کې: څوک چې له خداى پاک څخه ويريږي ، خپل لا سونه د حرامو لور ته نه اوږدوي بلکې تل په هغو باندې داسې کارونه کوي چې په هغو کې د خداى(ج) رضا وي.

٦ ـ په پښو کې: همدارنګه له خدایه ویریدونکي کس ، داسې یو ځای ته نه ځي ، چې هلته په ورتګ الله پاک ناراض او خپه کیږي .

٧ ـ په طاعت او عبادت کې: هغه ځوک چې له خدای پاک څخه ویره لري ، طاعت او عبادت یې خاص دهغه له پاره وي او په هغه کې ریا او منافقت نه کوي .(١)

رحمان بابا دهغه دنیا پرست انسان په هکله چې له خدای پاک څخه یې هیڅ ویره او حیا نه وي ، داسې وایي:

حق باطل کا ، باطل حق کل    په سبب د روی ریا
نه یې ویره وي له خدایه    نه یې شرم نه حیا
د یوې ګیډې د پاره    هزار خوني کا بیدیا
همیشه یې له ستمه    خلقه وي په غوغا (٢)

---

(١) امام غزالي ، مکاشفة القلوب ، د مصر چاپ ، ١٣٢٣ هـ ، ٨ مخ

(٢) رحمان بابا ، دیوان ، دڅیړنیار محمد عارف غروال په اهتمام ، پښتو ټولنه ، ١٣٥٦ کال ، ٧ مخ

## ٥ ـ دهیلې او رجا حال:

خدای پاک ته هیله درلودل او هغه ته امید کول ، له څخه د ویریدو سره لازم دي ، ځکه پخوا وویل شول چې د خدای(ج) څخه د ویریدو مانا دا نه ده چې سړی دې ناهیلي وي ، بلکې د تل لپاره ښایي چې د هغه مهربانیو ته هیله من وي .

په دې هکله مولانا جلا الدین بلخي داسې ویلي دي:

((یو چا له ما څخه پوښتنه وکړه چې هیله او رجاء خو په خپل ذات کې ښه شی دی ، دا وېره د څه لپاره ده؟ ، ما وویل: ته ما ته وېره له هیلې پرته او هیله له وېرې غیر راوښیه ! ، دا دواړه په خپلو کې سره نه بیلیږي نو له یو بل څخه پرته نه لیدل کیږي ،

دمثال په توګه یو سړی غنم کري ، هیله لري چې هغه شنه شي ، خو پـه عـین وخت کې دا وېره هم ورسره وي چې کوم مانع او آفت ورپېښ نه شي ، نو معلومه شوه چې رجاء او هیله له وېرې پرته نه وي ،او برعکس وېره هم له هیلې پرته نه پیداکیږي. ))(١)

الله تعالی ته دهیلې اورجاء په هکله په قرآنکریم کې ډېرآیتونه شته ،د مثال په توګه :

((*یرجون رحمة ویخافون عذابه* )) یعنې دخدای پاک د رحمت هیله ولرئ او له عـذاب څخه یې وویریږئ .

یاداچې وایي:((*فمن کان یرجو القاءربه فلیعمل عملاً صالحاً* )) یعنې کـه چیرتـه څوک له خپل پالونکي خدای سره د ملاقي کیدو او مخامخ کیدو هیلـه لـري ، نـو هغـه ته لازمه ده چې ښه او صالح عملونه او کارونه وکړي .

زمونږ ستر پیغمبر حضرت محمد (ص) ویلي دي: ((کـه چیرتـه دمـوء مـن ویـره او هیلـه سره وتلل شي نو هرومرو به دواړه سره برابر وخیژي .))

---

(١) جلا الدین بلخي ، فیه ما فیه ، داعظم ګړی معارف مطبعه ، ١٩٢٨ ع کال ، ٨٣ مخ

د پورته وینا له مخې ثرګنده شوه چې دا ((حال)) د صوفیانو پـه منځ کې ډېر اهمیت لري ځکه یو صوفي هم داسې ویلي دي: ((ویره او هیله د ((عمـل)) او کـړو وړو دوه وزرونه دي چې له هغو پرته به هیڅوک وانه لوزي .)) (١)

ستر صوفي شاعر رحمان بابا له خدای پاک څخه داسې هیله کوي:

خـدایه !مه کړه نا امید هغه وګړی　　چې امیـد یـې وي د سـتـا پـه کـرم کـړی

ستا له رحمه به زه ولې نا امید کـــړم　　چې دې ځان دی د رحیم په نـوم نـوموړی

دانیمګړی سړی ننګ هم له خپل نام کا　　ته خو خدای یې چې په هیڅ نه یې نیمګړی

چـې بـې تـا یـې پـه زړه بله هوا ګرځي　　تـــر مـقـصـوده بـه ونـــه رســـي وګـــړی

هر چې ستا په لار قدم دراستی کیږدي

که یې زیان وي زه رحمان یې پوروړی (٢)

همدارنګه میرزاخان انصاري هم په دې باب ویلي دي:

دمخلص بنده هميش پر ښنتن ناز دی     پر ښښتــن باندې مخلص بنده اياز دی

که خطا يــې د سرې پــه بـخره کـيـښوه     تــر قيامته پــورې ور د تـوبې وازدی

زه چې هسې پـه امـيد پـه ويـره اوسـم     پـه دا کورکې راسره بد خواه غماز دی

پـه هر هر زمان مې ويره شي له موجه     د اميد لا س مې نيولی په آب باز دی (۳)

---

( ۱ ) ابي نصر سراج طوسي ، اللمع ، دمصر او بغداد چاپ ، ۱۳۸۰ هق ، ۹۱ مخ

( ۲ ) رحمان بابا ، ديوان ، دمحمد عارف غروال په اهتمام ، پښتو ټولنه ، کابل ، ۱۳۵٦ هش ، ۲۱۹ مخ

( ۳ ) ميرزاخان ، انصاري ، ديوان ، دپېښور چاپ ، ۱۹۵۹ ع کال ، ۲۰۸ مخ

## ٦ ـ دشوق او ذوق حال:

کله چې دصوفي په زړه کې دخدای پاک مينه او ويره ځای نيسي او هغه تـه هيلـه مـن وي او دا احـوال ورځ پـه ورځ دده پـه زړه کـې پخيـږي او د هغـه پـه رګ ،رګ او وينـه کـې ورننوزي ، نو په نتيجه کې له ده سره دخدای پاک پـه هکلـه زياتـه تلوسـه او شـوق پيـدا کيږي او تل تر تله دهغه په ليدنې او مشاهدې پسې لا لهانـده او سرګردانه وي ، لـه دې کبلـه دصوفي پـه زړه کـې د شوق حال پـه پيدا ايښت سره لـوی بدلون راځي او دهغـه پـه احساساتو ، عواطفو ، روحياتو کې ژور بدلون ليدل کيږي .

پيغمبر (ص ) ديوې مشهورې دوعـا پـه تـرڅ کې ويلي دي: ((اسالک لذة النظر الی وجهک الکريم والشوق الی لقائک . )) يعنې زه له تا څخه دستا دمبارک ذات دليدنې د لذت او خوند غوښتنه کوم او له ستا سره د پيوستون د تلوسې او شوق سوال کوم.

دشوق دحال له مخې هم صوفيان په دريو ډلو ويشل شوي دي:

۱ ـ لومړی هغه ډله ده چې دهغه کرامت ، ثواب او اجر ته تلوسه او شوق لري چې خدای پاک له خپلو دوستانو سره دهغو د ورکړې وعده کړې ده .

۲ ـ ځینې هغه صوفیان دي چې له خدای پاک سره د ډېرې مینې له کبله ،هغه مخامخ کیدو او ملا قات ته زیاته تلوسه او اشتیاق لري .

۳ ـ دریمه ډله هغه ده چې : د شوق له مرحلې څخه هاخوا اوښتي وي او په هر څه کې خدای پاک حاضرویني ، او هره ثانیه د الهي جلا لي او جمالي اثارو په مشاهدې بوخت او مشغول وي. ( ۱ )

داسې یوه پوښتنه شوی چې شوق لوړ دی که مینه ؟ په ځواب کې ویل شوي دي

---

( ۱ ) ابي نصر سراج طوسي ، اللمع ، دمصر او بغداد چاپ ، ۹٤

محبت او مینه ! ، ځکه چې شوق له محبت څخه راولا ړیږي .

چې شوق هغه سوځنده اور دی چې له ځیګر څخه راوزي ، او لمبه ( لنبه ) یې دبیلتون په وخت کې ښکاریږي . ( ۱ )

رحمان بابا د عشق او عاشقي په هکله داسې وایي:

د عشق زخم څه د زخم په شان نه دی — د بل زخم په څیر سهل او اسان نه دی

عاشقي نه ده کـه ګورئ حیراني ده — کوم سړی په دغه کار کې حیران نه دی ؟

یو عاشق دې څوک راوښایي په عشق کې — چې یې رود په مخ د اوښکو روان نه دی

هومره اوښکې د عاشق په ګریوان اوري — ته به وایي چې یو سیند دی ګریوان نه دی

چې باله شي څوک په عشق کې کم عقل — دا کم عقل ډېر هوښیار دی نادان نه دی

چې بې یاره زه جهان وته نظر کړم

رحمان وایم چې ویران دی ودان نه دی ( ۲ )

(۱) ابوعلي بن احمد عثماني ، ترجمه رساله قشيريه ، تهران ، ۱۳٤٥ هش ، ٥٧٧ مخ

(۲) رحمان بابا ، ديوان ، پښتو ټولنه ، کابل ، ۱۳٥٦ هش ، ۲۰٤ مخ

## ۷ ـ د اُنس او ډاډ حال:

په خدای پاک باندې ډاډه کيدل دا مانا لري چې کله صوفي په زړه کې د هيلې او رجاء حال پوخ او ټينګ شي ، په هغه باندې يې اعتماد زياتيږي او په هغه باندې ارامېږي او کراريږي ، او يوازې له هغه څخه مرسته غواړي ، اُنس او ډاډ داسې يو روحي حالت او کيفيت دی چې له پورتني عبارت څخه پرته يې نور په بل عبارت تعبير نه شي کيدای ، صوفيان ددې حال له پلوه بياهم په درې ډلو ويشل شوي دي:

لومړی: هغه صوفيان دي چې د خدای پاک په يادونې او ذکر باندې ډاډه کيږي او له هغه څخه د غفلت کولو په وخت کې ناکراريږي ، په طاعت يې خوښيږي او له خدای(ج) څخه د سر غړونې په وخت کې يې په زړه کې يو وحشت او ويره ، نا کرارتيا ورلويږي

دويم: هغه صوفيان دي چې يوازې په خدای تعالی ارام او ډاډه وي ، او له هغه څخه پرته يې له نورو ټولو شيانو نفرت راځي ، او له هر څه څخه ډډه کوي او وحشت ترې کوي .

دريم : دريمه ډله هغه صوفيان دي چې د خدای پاک د نـزدېوالي له کبله يې اُنس او ډاډ د زړونو له ظاهري او ښکاره پردو څخه وتلې او تل يې په زړونو کې (( هيبت )) پروت وي.

يو سړي ذوالنون مصري ته ليک واستوه او ورته يې وې ليکل : (( او حشک الله بقربه ))

يعنې خداى پاک دې ستا په زړه کې د خپل قربت او نـزدېوالي له کبله (( هيبت )) پيدا کړي. (١)

---

(١) ابي نصر سراج طوسي ، اللمع ، دمصر او بغداد چاپ ، ١٣٨٠ هق ، ٩٦ مخ

هيبت او اُنس د طريقت د کسانو له احوالو څخه دوه حالتونه لري ، په دې مانا چې کله خداى پاک د خپل بنده په زړه د جلالي صفاتو له پلوه تجلى وکړي ، دهغه په زړه کې هيبت اچوي او کله چې د خداى پاک د جمالي صفاتو پلوشې د صوفي زړه ته ورننوزي په هغه کې اُنس او ډاډ پيدا کيږي ، هيبت دعارفانو درجه او نصيبه ده او ډاډ د مريدانو برخه ده . د لومړي ډلې په زړونو کې د دوستۍ لمبې بلې وي او د دوهمې ډلې زړونه د خداى پاک له جمال څخه روښانه وي . (١)

له جنيد څخه د اُنس او ډاډ په هکله پوښتنه وشوه ، هغه وويل: (( ډاډ دې ته وايي چې دعاشق او معشوق له منځه پرده پورته شي په دې شرط چې هيبت پاتې شي ددې خبرې مانا دا ده چې د صوفي په زړه کې هيله پر ويرې غالبه وي . ))

ابراهيم مارستاني وايي: (( اُنس له هغې خوښۍ څخه عبارت دى چې د محبوب له مشاهدې او ليدنې څخه پيدا کيږي . ))

ذوالنون وايي: (( د اُنس او ډاډ ډېره ټيټه مرتبه داده چې که چيرته بنده په اور کې واچول شي ، اور هغه له خپل محبوب څخه مشغول نه شي کړاى. )) (٢)

رحمان بابا د اُنس او ډاډ په اړه داسې ويلي دي:

چې په نور څه پورې زړه تړي بې خدايه      څه پوهيږي چې په ځاى کړي که بې ځايه

دا خو نه شته چې به تل تر تله پايي      نه بيا پايي خو تر سلو کالو پايه (٣)

په دې پورته بيتونو کې رحمان بابا د اُنس او په خداى (ج) باندې اعتماد دنورو

( ۱ ) مولا نا شیخ علي بن شیخ عثمان جلا لي هجویري غزنوي ، کشف المحجوب ، سمرقند ، ۳۳۰ هـ ش ، ٤۳۹ مخ

( ۲ ) دخواجه محمد پارسا تحقیق ، تحفة السالکین ، د ډهلي چاپ ، ۱۹۷۰ ع کال ، ۲٤٦ مخ

( ۳ ) رحمان بابا ، دیوان ، پښتو ټولنه ، ۱۳٥٦ هـ ش کال ، ۱۷۹ مخ

صوفیانو په څیر تمثیل کړي ، هغه دا چې انسان ته ښایي چې یوازې په خدای پاک اعتماد وکړي او په نورو څیزونو زړه ونه تړي .

په یوه بل ځای کې هم رحمان بابا د خدای پاک سره د اُنس او په هغه باندې د ډاډ او اعتماد په هکله داسې ویلي دي:

هرچې ستا کوڅه ما واکه    ځای یې بر شي تر افلاکه
نظر بې د ستا له رویه    نه په ارض نه په سماء که
ستا په مهرو محبت کې    ځان جهان واړه فنا که
د دنیا کور و وګړي    ستا په مینه کې تالا که
و هر خواته چې ستا مخ شي    دی هم مخ په هغه خوا که
د ریښتینو مقام دا دی    څو چې مینه په رښتیا که (۱)

په دې پورتنیو بیتونو کې رحمان بابا له خدای پاک سره اُنس نیول له هر څه څخه لوړ ګڼي او دا د ریښتینو کسانو مقام بولي.

(۱) رحمان بابا، دیوان، دپېښور چاپ، ۱۶۰ مخ

## ۸ـ دليدنې يا مشاهدې حال:

مشاهده، مکاشفه، معاينه، محاضره او تجلی دصوفيانو له اصطلاح ګانو څخه دي. چې د هغو په منځ کې توپير کول هغه هم په عملي تصوف کې ډېر ګران کار دی،

چې له پياوړو او ځای ته رسيدلو متصوفينو څخه پرته بل چاته يې پته نه لګيږي.

داچې دصوفيانو په عقيده ټول موجودات او اشياء د الهي صفاتو مظهر ګڼل کيږي او د الهي انوارو، پلوشو د تجلی ځای بلل کيږي، له دې کبله يو صوفي محمد بن واسع وايي: ((ما هيڅ کوم داسې څيز بيخې نه دی ليدلی مګر دا چې په هغه کې مې خدای ليدلی.)) په پای کې تر دې چې د ټولو اشياو وجود نفي کوي او حقيقي موجود يوازې خدای پاک ګڼي، لکه څنګه چې شبلي وايي: ((ما له خدای پاک څخه پرته نور هيڅ څيز نه دی ليدلی.))

داچې د الله تعالی تجلی په موجوداتو ځانګړې درجې لري له دې کبله د پورتنيو اصطلاح ګانو په منځ کې څه نا څه توپير شته:

۱ ـ **محاضره:** محاضره دې ته وايي چې په لومړي مرحله کې د صوفي زړه د الله پاک د انوارو ليدلو ته چمتو کيږي. (۱)

۲ ـ **مکاشفه:** کشف رالوڅونې ته وايي چې له محاضرې څخه وروسته د صوفي په زړه کې پيدا کيږي او ددې مسلک په اصطلاح کې هغه له يوې نازکې پردې څخه ها خوا د ځينې الهي صفاتو، اود اشياو د حقيقت له ښکاره کيدو او راظاهريدو څخه عبارت دی.

**۳ ـ مشاهده:** مشاهده یا لیدنه په درېیمه مرحله کې یو صوفي ته پیښیږي او هغه

(۱) ابو علي بن احمد عثماني، ترجمه رساله قشیریه، تهران، ۱۳٤٥ هش، ۱۱۷ مخ

بې ځانګړی او مخصوص مظهره او بې له ټاکلي، تعین شوي صفت څخه د اشیاو د حقیقت راښکاره کیدل او لیدل دي، خو بیا هم د هغو په منځ کې څه نا څه توپیر لیدل کیږي.

**٤ ـ معاینه:** له دې ټولو څخه لوړه مرتبه ده او هغه پرته له کوم خصوصیت څخه د حقایقو له ظاهریدلو نه عبارت ده. (۱)

**٥ ـ تجلی:** د مومن په زړه باندې د الهي انوارو او پلوشو له اغیزې څخه عبارت دی، چې د هغو په مرسته صوفي کولی شي چې د زړه په سترګو خدای پاک ووینې. (۲)

مکاشفه د خدای پاک په جلا لي صفاتو کې راځي او مشاهده یې په جمالي صفتونو کې راځي چې له مکاشفې څخه د صوفي په زړه کې هیبت او ویره پیدا کیږي او له مشاهدې څخه خوښي، سرور راولا ړیږي او تجلی کله له مشاهدې سره وي دا په هغه وخت کې چې د الهي جلا لي صفتونه د صوفي په زړه تجلی وکړي او کله له مکاشفې سره وي دا هلته چې د الهي جلا لي صفات د هغه په زړه تجلی وکړي.

دا خبرې چې مونږ یې دلته لیکو ټول الفاظ دي ځکه چې مشاهده یا مکاشفه لکه څنګه چې د صوفي په زړه کې را پیدا کیږي، عبارت او الفاظو یې تعبیر نه شي کیدای او پوره ((وجداني)) اړخ لري چې خپله هماغه صوفي پوه شي او د هغه خپل نفسي حالت او کیفیت، ځکه چې دوی (صوفیان) خپله وایي: *المشاهده قصور اللسان بحضور الجنان* / مشاهده او لیدنه د ژبې نیمګړتیا ده په هغه وخت کې چې د صوفي د ځان ټول غړي وینې او لیدو ته چمتو وي د مشاهدې او مکاشفې په وخت کې له صوفي څخه ځان او جهان هیریږي او ټول پام او هڅه یې د الهي جلا لي او جمالي صفتونو ته اړولي وي، مثال یې دا دی لکه څوک چې په هنداره کې خپل مخ

( ۱ ) شیخ عبدالقادر جیلا ني ، فتوح الغیب ، نولکشور ـ لکنهو ، ٦٠ مخ

( ۲ ) دخواجه محمد پارسا تحقیقات ، تحفة السالکین ، دهلی ، ۱۹۷۰ ع ، ۳۷۵ مخ

ته ګوري او خپل مخ ته دومره په ځیر شي چې که څه هم په ظاهر کې هنداري ته ګوري خو په واقیعت کې یې هنداره بیخي له خیال څخه وتلی وي او د خپل مخ په لیدو مشغول وي ، همدارنګه صوفي که څه هم په ظاهر کې د طبیعت مظاهرو ته ګوري خو دنفسي حالت له مخې په طبیعي موجوداتو هیڅ خبر نه وي . لکه څنګه چې ابوالسعید الخراز وایي : (( کله چې څوک په زړه باندې د خدای (ج) عظمت او لویي وګوري د هغه له زړه نور ټول شیان پټبه باسي او تښتي او شیان ترې تیت او پرک کیږي او دالهي عظمت او لویي په وړاندې خپل موجودیت له لاسه ورکوي او غاییږي او په زړه کې له خدای پاک پرته نور څه نه پاتې کیږي . ))

دلته ده چې د اشیاو بې ثباتي او د دوی مجازي او عاریتي وجود صوفي ته معلومیږي او په ربښتیاني او حقیقي موجود یې هم علم رسیږي او دا نهیله یې پوره کیږي . لکه څنګه چې پیغمبر (ص) ویلي دي : (( ارنی الا شیاء کماهی )) یعنې اشیاء لکه چې دي همغسې یې راووینه . په دې وخت کې صوفي ته د وحدت الشهود حالت پیدا کیږي ( چې وروسته به یې دوحدت الوجود تر سر لیک لاندې واضح کړو )

په دې هکله میرزا خان انصاري وایي :

دغه زړه په مثال د آئینه دی      که له غیر اندیښنو یې په صیقل کړئ
حقیقت به د اشیاء وتا څرګند شي      که چراغ د معرفت ورباندې بل کړئ

په دې پورته بیتونو کې میرزا خان زړه د هنداري په څیر ګڼي چې په دې هنداره کې ښایي چې د طبیعت حقایق وکتل شي ، او له دې لارې څخه د خدای پاک جمال او جلا ل مشاهده کړي ، لکه چې خپله وایي :

آواز واړه د وهاب دی      که د رحم یا عتاب دی
په هر لور چې فهم وکړم      دمولا چنګ و رباب دی (۱)

(۱) میرزاخان انصاري، دیوان، پیښور چاپ، ٦٧ مخ

همدارنګه ستر صوفي شاعر رحمان بابا وايي:

چې غبارد ستا دلا رې په خوا ورشي    که په دوا ړو سترګو ړوند وي مبصر دی
تـا زه نوی سر پـید ا کا لکه شمعـه    چې يې غوڅ د ستا په مينه د زړه سر شي
تـل يې مـخ وي لـه عـالمه جار وتلی    د هغـو چې ستا په مخ باندې نظر شي
که د درست جهان له حاله خبردار وي    چـې تـا ووينـي لـه واړو بـې خبـر شي
آئينه کـه د جمال کړي ورڅرګـنده
دا ګدای رحمان به شاه سکندر شي (۱)

## ۹ ـ دباور او يقين حال:

يقين دهغه علم او پوهې يو ځانګړی حالت دی چې شک نه شي ورننوتلی او دا علـم بيـا درې درجې لري: علم اليقين، عين اليقين، حق اليقين.

۱ ـ علم اليقين: علم يقين په کامل او قاطع دليل حاصليږي. لکه کله چې چا باندې دلمر وړانګې او پلوشې ولګيږي او تودوخه يې احساس کړي، داسې انسان د لمر د وړانګو او د تودوخې له امله د لمر پـه موجوديت باندې داسې يقـين او بـاور کوي چې هيڅ شک ورته نه پيدا کيږي.

۲ ـ عين اليقين: عين اليقين په وجدان حاصليږي، مثلاً: يو تن لمر ته مخامخ ګوري تر څو يې د سترګو نور محوه شي، داسې انسان سره هم دلمر شتوالي کې کوم شک نـه پاتې کيږي.

۳ ـ حق اليقين: حق اليقين دې تـه وايي چې د عـالم او معلوم لـه منځـه دوه والی لـرې شي چې داسې کيفيت په دنيا کې ډېر خلکو تـه پيـښيږي چې هغـه هم يوه ثانيـه يا لـه ثانيې څخه هم لږ دوام کوي او بيا ورک کيږي.

په عادي توګه علم اليقين د خدای (ج) په هکله د دلا يلو لـه لا رې پـه دنيـوي ژوند کې حاصليږي او عـين اليقـين دځنکندن او مړينـې پـه وخت کـې او حق اليقـين لـه مړينـې وروسته حاصليږي خو ځينې خاصان حتی په دنيوي ژوندانه کې د يقين دې درجې

(۱) رحمان بابا، ديوان، دمحمد عارف غروال په اهتمام، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۵٦ هـ ش، ۲۳۲ مخ

رسيږي ، لکه څرنګه چې عابر بن قيس وايي:
ته (( که چيرته پرده هم پورته شي زما يقين به له دې څخه زيات نه شي . )) خو بيا هم ځينو خلکو دده دا خبره له (( شطحاتو )) څخه ګڼلې ده . (١)

ديقين حال د تصوفي احوالو وروستى پړاو دى کله چې صوفي دې حال ته راورسيږي نور يې تر زياتې اندازې زړه جمع او مطمين شي . *(( الذين امنوا و تطمين قلوبهم بذکر الله ، الا بذکر الله تطمين القلوب ))* يعنې هغه کسانو چې باور وکړ او دخداى (ج) په يادونې يې زړونه ډاډه شول ، او تاسې په دې پوه شئ چې د خداى (ج) په يادونې زړونه ډاډه کيږي .

په دې وخت کې دوى د مطمينه نفسونو خاوندان ګرځي او د قيامت په ورځ به ورته ويل کيږي چې : *(( ياايهاالنفس المطمينة ، ارجعى الى ربک راضيه مرضيه فادخلى فى عبادى ، وادخلى جنتى ))* يعنې اى ډاډه او مطمين نفسه ! وروګرځه خپل پالونکي خداى (ج) ته په داسې حال کې چې له هغې راضي يې او هغه له تا راضي او خوښ وي نو زما د خاصو بنده ګانو په ډله کې ورننوزه زما جنت ته ورداخل شه ! او ننوزه !

**يادونه :** که څوک پوښتنه وکړي چې : صوفيان له دې تکليف لرونکي سير او سلوک څخه څه موخه لري ؟ او دوى څه غواړي ؟

په دې خبره باندې دپوهيدو دپاره لازمه ده چې د انسان شخصيت او په ځانګړي توګه د هغې روحي خوا ته پاملرنه وکړو له دې امله ضروري بريښي چې دا موضوع د دين او سايکالوژي له پلوه وڅيړل شي .

<u>دانسان دوه اړخيز شخصيت</u> :

د دين او دفرويد د سايکالوژيکي مکتب له نظره د دوه اړخيز روحي شخصيت خاوند دى په دې مانا چې په هغې کې د دې فطري استعداد پروت دى چې د شر او ناوړه کړو وړو مخه ونيسي او يا د ښو کارونو او نيکو اعمالو لاره غوره کړي ، خو د ډول ډول عواملو له مخې په چا دا غالبيږي او چا کې هغه .

**١ـ د دين په اساس :** دا چې مونږ وايو په انسان کې د خير او شر دواړو استعداد

(١) له کشف المحجوب ، تحفة السالکين او اللمع څخه اقتباس .

دا موضوع له ډېرو ديني نصوصو (احکامو) څخه معلوميږي، د بيګې په توګه:

((و نفس و ما سوها O فالهمها فجورها و تقوها O قد افلح من زکها O و قد خاب من دسها O )) (۱)

ژباړه: زما دې قسم وي په نفس، او په هغه ذات چې څرنګه يې اول دا نفس برابر کړ او بيا يې هغه په د هغه بدکاري او دهغه پرهيزګاري ورالهام کړه، هغه څوک بريالی شو چې دا نفس يې تزکيه، پاک او سوچه کړ، او ناکام شو هغه څوک چې دا نفس يې په خاورو کې ولړه.

په دې آيتونو کې په ډېر روښانه ډول د نفس دواړه خواوې بيان شوي دي چې هغه له خير او شر څخه عبارت دي،

همدارنګه د رواه الترمذي حديث دی(۲):

ابن مسعود رضی الله عنه وايي چې: پيغمبر(ص) داسې وويل: ((شيطان د بني ادم په زړه کې يو نوع تصرف لري او همدارنګه له هغه سره فرښته هم کار لري او د شيطان کار او تصرف دا دی چې هغه ته د شر وعدې ورکوي ا و له حق څخه يې انکار کولو ته تشويقوي، او د فرښتې کار دا دی چې انسان ته د خير وعده ورکوي او په حق باندې يې باور کولو ته تشويقوي، که څوک داسې څه ووينې نو په دې دې پوه شي چې د دخدای (ج) له خوا دي نو ښايي چې د خدای پاک حمد و ثنا ووايي.

او که چيرته يې هغه بله (د شيطان وسوسه) په زړه کې وليدله په خدای (ج) دې ثناء ووايي او بيا يې دا آيت ولوست:

ژباړه: ((شيطان تاسې ته د فقر وعدې درکوي او تاسې ته په ناوړه کارونو امرکوي.))

يعنې له فقر څخه مو ويروي چې له چا سره مرسته ونه کړئ او بيا مو فحش ته تشويقوي چې مالونه مو په کې صرف شي نو که چيرته څوک د شيطان لا ره غوره کړي او دهغه د وسوسو تر اغيزې لا ندې راشي په ناوړه کارونو پيل کوي، تر دې چې په پای کې عملاً له هغه څخه شيطان جوړ شي. ((من الجنة والناس)) له هغه شيطان څخه پناه غواړم چې د خلکو په زړونو کې وسوسې اچوي، برابره ده چې دا شيطان،

---

(۱) په قرآنکريم کې، الشمس سورة، ٦ــ ١٠ پورې آيتونه
(۲) مشکاة المصابيح، د دهلي چاپ، ۱۹ مخ

جني وي او که له انسانانو څخه وي.

او که چیرته یې دفرښتې الهام ته غوږ ونیو او ښه کارونه یې پیل کړل او له بدو کارونو څخه یې توبه وویستله د داسې انسان نفس ورو ورو سوچه کیږي او په پای کې دفرښتو په څیر هیڅ وخت ناوړه کار ته اقدام نه کوي چې داسې انسان ته (( ولي )) او (( بزرګ )) ویل کیږي .

۲ ـ دفروید د سایکالوژیکي مکتب په اساس: د انسان روحي اړخ د سایکالوژي او ارواپوهنې له خوا په دریو ډولو ویشل شوي دی:

الف: ویښ ضمیر ، ب: ناګاره ضمیر ، ج : سوچه او لوړ ضمیر .

ویښ او په ځان خبر ضمیر تل زیار باسي چې له موجوده ټولنیز نظم او عادتونو ، رواجونو ، قوانینو سره سم ځان سنبال کړي او له هغه څخه سر ونه غړوي.

ناګاره او ځانه نا خبره ضمیر چې د ژوند د پخوانیو پیښو او عقدو او غوټو مجموعه ده ، د تل لپاره کوښښ کوي چې فرد د موجوده ټولنیزو قراردادونو په ضد تحریک کړي ، په دې توګه ددې دواړو تر منځ اخ و ډب موجود وي چې د لومړي هڅه سمبالښت ته وي او د دوهم تلوسه ورانښت ته وي خو په دې جاروجنجال کې ناګاره ضمیر پیاوړی بریښي له دې کبله د ویښ ضمیر مرستې ته سوچه او لوړ ضمیر ور دانګي او د ماتې مخنیوي یې کوي .

له پورتنیو څرګندونو څخه دا نتیجه اخیستلی شو چې د انسان په وجود کې دوه متضاده قواوې په خپلو کې په جګړې بوختې دي چې یوه یې له انسان څخه حیوان جوړوي او بله یې انسانیت لا پیاوړی کوي .

نو له همدې کبله صوفیان زیار باسي چې د خپلو ځانونو حیواني اړخ کمزوری او د ریاضت او ددې مشقت لرونکي سیر او سلوک په مرسته د خپلو ځانونو د انسانیت خوا پیاوړي کړي .

میرزا خان انصاري په دې باب څه ښه ویلي دي:

*اماره او لوامه پکې سطرنج کــه　　دا لښکر په فرمان وبله زغلي*
*نوکران یې په شدت و جنګ ته سازکړه　　او وسله یې خپل خویونه پرې ویشلي*
*بدګمان لکه لینده ، غیرت یې ژی　　کم دلیل یې هر زمان و بله ولي*
*نامشروع وېناوې دي په مثال غشي　　پر قبضه باندې کینبود جوړولي*
*بد اواز په زړه پر هار وکه بې مثله　　پراندوه د بد سرې شیطان خندلي*
*وبدی وته یې څرنګه تلوارده　　له ښیګړې قراري کالکه ځلي*
*او دا زړه د سرې ځای دی د دارو　　د دارو په ځای یې زهر دي کړلي*
*د نوسک عالم یې زور په زړګي وکه　　او د روح په ملک یې کښې شیطان ملي* (۱)

په دې پورتني بيتونو کې په ډېر صراحت د انسان د روحي اړخ دوه متضاده قواو باندې بحث شوي او دهغو د جګړې اهميت يې ښودلی دی لکه چې په بل ځای کې يې هم ويلي دي:

*که په نفس اماره دې برې بيا موند ستا په نزد فتحه دغه ده لويه سوبه* (۲)

((پاتې لري))

---

(۱) او (۲) ميرزاخان انصاري ، ديوان ، پيښور چاپ ، ۱۹۰ مخ او ۱۶ مخ